# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل


www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې لومړی | د ۲۰۲۰ د جنوري ۲۱مه | ۵۰۰مه ګڼه


## ځیره

۴ مخ

### میشل فوکو



نوموړي وايي، انسانان ازاد ژوند کولی شي، خو د ازاد ژوند لپاره باید د قدرت پر ځای په ازادی پسې وي. د ده په خبره، یوازې څواک نه دی چې انسان ازادولی شي؛ بلکې ډېر داسې څه شته چې انسان باید له هغه د ازادی لپاره ګټه واخلي.

# پلازمېنه کابل د وحشت په لومو کې؛

## د امنیتي ادارو له ژمنو سره سره، جرم او جنایت اوج ته رسېدلی دی



۳

### کابل لا هم امن نه دی

۲ مخ

### تاریخ او پوپولیزم

۲ مخ

### په افغانستان کې د پاکستان ستراتېژیکې موخې

۳ مخ

## کرنې ریاست: په بلخ کې د کونځلو حاصلات ۴۶ سلنه زیات شوي



د بلخ د کرنې ریاست چارواکو ویلي چې په دغه ولایت کې د کونځلو حاصلات ۴۶ سلنه زیات شوي دي.
د دغه ولایت د کرنې ریاست امر ذبیح‌الله زوبین ویلي، په روان کال کې په څلور زره او ۷۰۰ هکتاره ځمکه کې کونځلې کرل شوې وې چې دری زره او ۲۴۳ ټنه حاصلات یې ورکړي دي.
نوموړي دغه راز زیاته کړې چې د کرنې وزارت له لوري بزګرو ته د روزنیزو پروګرامونو پلي کول، له موسمي ناروغیو سره مبارزه او وروستي اورښتونه د دې لامل شوي چې په دغه ولایت کې د کونځلو حاصلات زیات شي.
د یادونې ده چې کونځلې د افغانستان په صادراتو کې مهم توکي شمېرل کېږي چې په شمالي ولایتونو کې د مناسبې هوا له کبله ډېرې کرل کېږي.
په ورته وخت کې د کونځلې غوړي په نړیواله کچه په نباتي غوړیو کې لومړی مقام لري او هند، چین، سوډان او مکسیکو یې لوی تولیدوونکي دي.

## زاخېلوال: د تاوتریخوالي راکمول اوربند ته د رسېدو په مانا دي

په اسلام اباد کې د افغانستان پخواني سفیر حضرت عمر زاخېلوال ویلي، د افغان سولې لپاره باید له هر رامنځ ته شوي فرصت څخه ګټه واخیستل شي.
زاخېلوال چې په قطر کې د امریکا او طالبانو تر منځ د خبرو له جزیاتو خبر دی، له ازادي راډیو سره په مرکه کې ویلي، د امریکایي چارواکو او طالب استازو تر منځ د سولې هوکړه لاسلیک ته چمتو ده، خو باید مناسبه فضا رامنځ ته شي.
نوموړي پر دایمي سولې د ټینګار تر څنګ ویلي چې د تاوتریخوالي راکمول هم اوربند ته د رسېدلو لپاره یوه لاره ده.
هغه دغه راز زیاته کړې: «ټولو خواوو ته او په ځانګړې ډول افغان حکومت ته لازمه ده چې له هر رامنځ ته کېدونکي فرصت څخه په ښه ډول استفاده وکړي، ښه دا ده چې اوربند وشي او اوربند هم باید سراسري او دایمي وي».
زاخېلوال ویلي چې که اوربند ناممکن وي، نو د تاوتریخوالي کموالی هم په دې برخه کې ښه ګام دی، چې وروسته به اوربند ته لاره پرانیزي، نو لازمه دې چې له دغه فرصته ښه استفاده وشي.
نوموړي دغه راز زیاته کړې چې په دوحه کې د امریکا او طالبانو تر منځ هوکړه نهایي شوې او ورسره سم تاوتریخوالی هم کم شوی دی.
د نوموړي په خبره، له امریکایي اړخ سره د هوکړې له لاسلیک وروسته، طالبان چمتو دي چې په لسو ورځو کې بین الافغاني خبرې هم پیل کړي چې له دې وروسته به پر سراسري اوربند او د سولې د نقشې په اړه خبرې کېږي.

## سوله د یوه کس او وزارت کار نه دی، ټول ولس باید پکې ګډون ولري



۵ مخ

## ادارهٔ نفت و گاز: برای کاهش نرخ گاز به شرکت‌های فروش گاز دولتی افزوده می‌شود



ادارهٔ نفت و گاز می‌گوید، برای جلوگیری از گران‌فروشی گاز بخش خصوصی، تصمیم گرفته است تا کمتر از یک ماه دیگر به شمار شرکت‌های فروش گاز دولتی در کابل بیفزاید.
مسئولان ادارهٔ نفت و گاز تاجران را به بی‌انصافی در نرخ‌گذاری‌ها در بازار آزاد متهم می‌کنند و هشدار می‌دهند که پس از این برای بستن دکان‌هایی که گران‌فروشی می‌کنند، از نیروهای پولیس و ثارنوالی کمک خواهند خواست.
این در حالیست که در این اواخر قیمت های گاز در بازارهای افغانستان به گونه بی سابقه بالا رفت که واکنش های مردم را نیز در قبال خود داشت.
جمیله بانوی که به‌گفتهٔ خودش فاصله زیادی را پیموده تا بتواند از دکانی گاز ارزان‌تر بخرد می‌گوید، خانه‌اش در وزیر اکبرخان کابل است، اما برای آن‌که بتواند یک کیلو گاز را تا ۱۰۰ افغانی خریداری کند، به مکروریان سوم آمده است.
اتاق تجارت و صنایع می‌گوید، تا روزهای آینده که هزاران تُن گاز وارد کابل می‌شود، در بهای گاز کاهش خواهد آمد، اما ادارهٔ نفت و گاز می‌گوید، هم‌اکنون نیز گاز به قدر کافی که نیازمندی باشندگان کابل را پاسخ‌گو است وجود دارد، اما برای آن‌که بازار آزاد کنترول نمی‌شود، تاجران و فروشندگان گاز مایع خودسرانه عمل می‌کنند و در برابر قانون نیز پاسخ‌گو نیستند.
شکایت‌های مکرر مردم و همچنان وعده‌های حکومت در حالی مطرح می‌شود که اتاق تجارت و صنایع با پخش اعلامیه‌ای گفته است که تاجران وعده کرده‌اند در بهای گاز کاهش خواهد آمد.


Shigal English Academy

شیگل انگلیش اکاډمي

SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019

Easy English learning

DEL

TOEFL iBT

shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696

Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریـــځ

### کابل لا هم امن نه دی

پـه تېـرو څـو ورځـو کـې یوځل بیـا پـه کابل کې پرلـه پسـې جنایـي پېښـې شـوې دي. غلـه لا هـم خلـک لوټـي، موټرونه تښـتوي او پـه یوه کم سـارې پېښـه کـې نامعلومـو وسـله والـو د یـوې کورنـۍ څلـور غړي وژلي دي. دا پېښـې له هغه وروسـته کېـږي چـې کورنیو چـارو وزارت د غلاوو د مخنیـوي ادعـاوې وکـړې. دا سـمه ده چـې د غـلا او لوټـمارۍ له یوې پراخې فضا وروسـته یو مثبـت بدلـون راغـی، خو په سرعت کیسـه بېرته پخـواني حالـت ته گرځـي. یوځل بیا غـلاوې او شـوکې پیـل شـوې او تـازه پېښـې شـوې دي. پوښـتنه دا ده چـې د غـلاوو، شـوکو او جنایـي پېښـو پـه مخنیوي کې ولـې اساسـي گامونه نه اخیسـتل کېږي؟

پـه کابل کـې جنایي جرمونه، غلاوې او شـوکې پـه منظـم، پـلان شـوي او سیسـتماتیک ډول کېـږي، چـې پکـې ځینـې زورورې کـړۍ او ان پـه حکومـت کـې دننه کـړۍ دخیلـې دي. کله کلـه د چارواکـو لـه وینـاوو ښـکاري چـې د دې کړیو ریښـې تر ولسي او مشرانو جرگو رسـېږي. پـه پولیسـو کـې دننـه ځینـې کـړۍ هم لـه دې چـارې سره تړلـې گڼل کېـږي. پـه کابـل کـې او د کابـل پـه څنـډو کـې ځینـې زورواکـي چې لـه سـیاسي رهبرانـو سره اړیکـې لـري او ډېـرې وخـت ارگ هـم ورسره د رایـو لپـاره پـه معاملـه کـې وي، پـه دغـو غـلاوو او شـوکو کې اساسـي رول لـري. د دې لپـاره چـې دا کـړۍ حکومتي، سـیاسي او وسـله وال زور لـري، نـو ځکـه یې پر وړانـدې گام اخیسـتل سـتونزمن دي. پـه دې چـاره کـې سـیاسي معاملـې او جوړجاړې تـر گـردو لـوی خنډ دی؛ ځکـه چـې ډېـرې وخـت حکومتـي مشران نـه غـواړي چـې سـیاسي مشرانـو خپـه کـړي او د هغـوی د غلـو او زورواکو پرضـد گامونـه واخـلي. آن کلـه کلـه دا کسـان د سـیمه ییـزو پولیسـو مشران اخـلي او یـا هـم دا سـیمه ییـز پولیـس د دوی پـه خوښـه او رضا بانـدې ټاکـي.

د غـلاوو او شـوکو پـر ضـد د حکومـت وروسـتیو گامونـو تـه پـه کتـو ښـکاري چـې حکومـت هم کـوم اساسـي گام نـه اخـلي، یـوازې ځینـې نمایـشي کارونـه کـوي چـې د خلکـو پوښـتنو، غوښـتنو او نیوکـو ته ځـواب ووایي. لـه بله اړخه حکومـت او پـه حکومت کې اشـخاص هم هڅه کـوي چـې د غلـو پـر ضـد پـه نمایـشي گامونـو سره ځـان تـه کمپاین وکـړي. له همـدې امله د غلـو او جنایتکارانـو پـر ضـد گامونه خـورا واړه او سرسري دي، خـو د دوی مطبوعـاتي ټیمونـه او فېسـبوک چلوونکي دا فعالیتونه لوی او بنسټیز ښـکاره کـوي. واقعیـت دا دی چـې د غلـو او شـوکمارو پر ضد اساسـي گام نه دی اخیسـتل شـوی، نیـول شـوي کسـان هـم واړه غلـه دي چـې یـا له شـبکو سره تړلي نـه دي او یا یې هم نـوی فعالیـت پیـل کـړی دی.

کـه حکومـت پـه رښـتیا غـواړي چـې د غلـو پـر ضـد گام واخـلي، دا چـاره بایـد منظمـه، پـلان شـوې او سیسـتماتیکه وي. لومړی بایـد یـوه قـوي اراده وي. دویـم بایـد د غلو د سـترو ملاتړو پـر ضـد گام واخیسـتل شي او د غلـو اصلـي ځالـې او مرکزونـه ختـم کـړي. کـه حکومـت پیـدا کـړي چـې سـیاسي مـشران د دغـو غلـو ملاتـړ کـوي، بایـد مسـتند یې افشـا کـړي او پر ضـد یـې گام واخیسـتل شي. دغـه راز کـه پـه حکومـت کـې دننـه او پـه ملي شـورا کې ځینـې کـړۍ وي، بایـد ښـکاره شي او پـر وړانـدې یـې عمـلي گامونـه واخیسـتل شي.

# تاریخ او پوپولیزم

لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

پوپولیـزم هغـه سـیاسي منطـق تـه وایـي چـې پـه مټ یـې پوپولیسـتان ملتونـه د سـیاسي او ټولنیـزو کښـالو پـه ټکـر کـې د خپلـو موخـو پـه گټـه د ماکیـاولي د ظالمانـه تیوریـو پـه تـرڅ کـې کاروي.

پـه ټولـه کـې د پوپولیـزم د معـاصرو څرکونـو ټاټوبـی امریـکا دی، چـې لـه ۱۹مـې پېړۍ څخـه راپیلېږي. پـه ۲۰مه او ۲۱مـه پېړۍ کـې هلتـه بیـا هـم د پوپولیزم بېلابېل ډولونه تر سـترگو شـول، مگـر پـه ۷۰یمه لسـیزه کـې پـه لوېدیځه اروپـا کـې دا عـوام فریبانـه حرکتونـه پـر منظمـو خوځښـتونو بـدل شـول، چـې پـه را وروسـتیو لسـیزو کـې د دغـو تحریکونو غوښـتنې سره منظمـې او همغږې شـوې او د ۲۰۰۸ ز کال د نړیـوال اقتصـادي کړکېـچ لـه املـه د پرمختـگ او ولـسي محبوبیـت تـر ټولـو اوچـې کچـې تـه ورسـېدې.

بـل لـور ته هغه پوپولیزم چـې د امریکا په تاریخ کـې وزیږېده، سـتر شـو، چاغ شـو او تـر اروپـا هـم ولېږدول شـو، پـر همدې بنسـټ د سـیاسي بـاور لـه مخـې نه شـو کـولای چـې پوپولیـزم او پوپولیسـتي کړنـې یـوازې پـه ښـي اړخـو یـا کیـڼ اړخـو پـورې یـا یـې پـه یـو لـه دغـه ډلگیو پـورې وتـړو او تعریـف یـې کـړو. ځکه هم ټرمـپ د همـدې پوپولیـزم او پوپولیسـتي کړنـو برخـه ده، هـم برنـي سـندرز، هـم د فرانـسي مـلي جبهـه او ماریـن لوپیـن چـې پـه ۲۰۱٦ ز کال کـې یې ولسـونه د پوپولیـزم ډول تـه ونڅـول او هـم د امریکا د خلگـو گونـد چې پـه ۱۸۹۲ ز کال کې او هـم پودمـوس په اسپانیا کـې همدغه کار پـه یـو بـل ډول تـر سره کـړ.

پـه ټوله کې پوپولیسـتان د یـوې ټولنې د دودیـزو او ژغورونکـو ډلـو پرخلاف داسـې غوښـتنې مطـرح کـوي، چـې دوی هـم پوهیـږي چې ممکنـې او معقولې نه دي، مگـر د ولـس او واکمنـۍ او یـا د واکمنۍ او اپوزیشـن خـواه تـر منـځ واټـن رامنـځ تـه کـوي او د ملتونـو د سـپېڅلو آرادو د اغېزمنولـو پـه موخـه د دوی واک تـه د رسـېدو او یـا د یـوه واقعـي ولـسي جریان د تخریـب سـبب گرځـي.

د بېلگـې په توگه، برني سـندرز د هیلري کلینټـن پرخـلاف دا چې پوهیـده چې نه شي کـولای گونـدي ټاکنـې وگټـي، مگر بیـا یـې هـم د خپـل حیثیـت د اعـادې پـه برخـه کـې د بېوزلـو امریکایانـو لپـاره ځینـې خیـالي شـعارونه ورکـړل، لکـه پـه یـوه سـاعت کـې د ۱۵ ډالـر مـزد تـر لاسـه کـول او یـا ټولـو تـه د یـوه ډول او برابـرو روغتیایـي بیمـو حـق ورکـول. ولې کـه د دې خـلاف سـندرز د ۷ ډالـرو او ۱۵ سـینټو پـر ځـای د ۷ او ۷۰ سـینټو ویـلي وای، نـو ممکـن نـه وو چـې د ولس پـام دې ورتـه اوښـتی وای او د سـندرز دا غوښـتنه پـه حقیقـت کـې د ولـس او واکمنـې ډلـې تـر منـځ د اوبـو خـړول او ماهیانـو نیولـو لوبـه وه.

دا ډول کـه ټرمـپ یوازې لـه مکزیک سره پـه پوله کـې د عسـکرو ډېرول ویـلي وای او یا د ډنمارک ښـې اړخي گوند یوازې د کډوالـۍ د کمولو غوښـتنه کـړې وای، نو فکـر نـه کېـده چـې د دوی دغو غوښـتنو دې ولـس د دوی لـور ته ورمات کړی وای او یـا دې د ولـس او واکمنـې ډلې تر منځ د ځـان پـه گټه د افتراق سـبب گرځېدلي وای، مگـر کلـه چې ټرمـپ وویل چـې دی به له مکزیک سره داسـې دېوال ورغوي، چـې لگښـت بـه یـې هـم د مکزیـک حکومـت ورکـوي او یـا بـه پـه ټولـه مانا د کډوالـو د تـگ مخـه ونیـسي، نـو دا هغـه پوپولیسـتي کړنـې وې چـې د ولـس پـام یـې بـدل کـړل، کـه څـه هـم نـه مکزیک امریـکا تـه د دېـوال جوړولو لگښـت ورکړ او نـه د ډنمـارک ښـې اړخـي گونـد د فرانسـې د مـلي جبهـې او ماریـن لوپیـن پـه گډون چې هغې هـم له کډوالـو او په ځانگړې ډول مسـلمانانو سره د کرکـې پارونـې او مقابلـې لـه لارې غوښـتل واک تـه ورسـېږي او سـیاسي قـدرت تـر لاسـه کـړي، بیـا هـم پاتـې راغلل.

پوپولیسـتي ډلـې او کمپاینونـه ډېـر کلـه پـه سیاسـت کـې د یـوه غبرگون پـه توگه عمـل کـوي.

پـه امریـکا او اروپـا کـې پوپولیسـت خوځښـتونه هغـه مهال ډېـر بریالي او فعـال وي، چـې کلـه ولـس د واکمنـې سـیاسي ډلگـۍ لـه کړنـو سـتړی او هغـه څـه چـې د حللارې پـه توگـه یـې وړانـدې کـوي، یـو ډول د خپلو غوښـتنو، لومړیتوبونـو او هیلـو پرخـلاف وبـولي. داسـې مهـال پوپولیسـتان ځانونـه د دغسـې مایوسـه او گیلـه منـو غوښـتنو اصلـي اسـتازي بـولي، ورڅخـه خبرې کـوي او پـه ټولـه کـې د ولـس دغـه ناخوښـي او سـتونزې دوی پـه یـوه سـیاسي جریـان کـې رانغاړي او لـه همـدې ځایـه د ولـس او واکمنـې کـړۍ تـر منـځ راپورتـه شـوې ناخوښـي او درز لا چاغـوي، پړسـوي او بیـا د ناچارۍ دغـه حالـت د خپلـو سـیاسي سـتراتیژیو او موخـو پـه دفـاع او ورتـه رسـېدو کـې کاروي.

بـل لـور تـه داچـې لوېدیځ پوپولیـزم د خپـل کلتـور، ادب او سیاسـت برخـه گڼي او لوېدیځ واکې پوپولیسـتان لـه ناکارې ورهاخـوا هېڅکلـه خپـل ملـت تـه د شر، خپـل تاریـخ تـه د ذلـت او پـه ټولـه کـې خپـل گونـد او ډلـې تـه د سرټیټۍ سـبب نـه دي گرځېـدلي، نو تـر دې زیات بحث پـرې لازم نـه گڼم.

مگـر کلـه چـې خبـره ختیـځ او هلتـه هم اسـلامي خـاورو او د سـعودي، مـصر، پاکسـتان، ایـران او افغانسـتان پـه څېـر هېوادونـو تـه چـې د نـړۍ تـر ټولـو فاسـد، خپـل چـاري، پراډیان، مسـتبد او ډیکټاټـوره سیاسـتوال یـې واکمنان دي، ورسـېږي؛ نو پوپولیـزم نه یوازې د همدغو ټولـو ناخوښـو اوصافـو قامـوس گرځـي، بلکـې گورو چـې د قانونیت او ولسـواکۍ پـه نشـتون کـې واکمنـان د اقتـدار پـر خطرناکـو نشـو اختـه شـوي، ټولنـه یـې لـه کابـو کولـو سـتړې، بـې وسـه او حتی ټکېدلـې ښـکاري او دا حالـت همدا اوس زمـوږ پـه سـیمه او هېـواد کـې مونږ د یوه عظیـم ملت پـه توگه احساسـوو، څه چې مونـږ یـې تـر ماتېدو او غرقېدو رسـولي یو.

د بېلگـې پـه توگـه، د کابـل د مارکېټونـو تـر ټولـو تـود کاروبـار د تابوتونـو خرڅـلاو دی، د کابـل پلورنځـۍ کفنونـه خرڅوي، پـه کابـل کـې ژونـد تصادف او مـرگ سر نوشـت دی، د ورځـې لږ تـر لـږه ۳۰۰ انسـانان، مسـلمانان او افغانـان د یـوه داسـې چـا د واک پـه نشـه او د شـعار پـه تـس کـې مـري، چـې نـه پـه پیـل کـې د جمهوریـت پـه لار واک تـه رسـېدلي او نه یـې اوس د جمهوریـت پـه لار واک تـه د رسـېدو آراده کـړې ده؛ خـو د یوویشـتمې پېړۍ همـدا بدنـام پوپولیسـت حکمران ځـان د امـاني رنگونـو رنگینـه گڼـي، کله د امـان اللـه خـان پـه یـاد رنگینـې مانۍ جـوړوي، کلـه د امـانـې زمانـې د ریفـورم یادونـه کـوي او کله خپلـه بدنامه واکمني د غـازي امـان اللـه خـان د ناتمـام فصـل بشـپړوونکې گڼـي، حال دا چـې د غازي امـان اللـه خـان تر ټولو غټ کار، ریفورم او ویـاړ د یـوه تاریخـي بحث او ملي عزت پـه توگه د افغانسـتان سـیاسي خپلواکي وه، لکـه څنگـه چـې یې تـوره را و ایسـتله او پرنگـي سـفیر تـه یـې ووېـل: «که څـوک زمـوږ پـه کورنیو چـارو کې یـوه زره هـم لاسـوهنه وکـړي، سر یې پـه دې توره لـه تنـې پرې کـوم».

مخ یـې د برېټانیـا سـفیر تـه ور واړاوه او ویـې وویـل: «پـوه شـوې؟»

سفیر ښکته کتل: «هو صیب »

ولې برعکس په یوه توندلارې پوپولیستي گام کـې د تاریخ لـه گردونـو د یـوه مـلي اتـل را ایسـتل، بیـا د هغه په نـوم، ویاړونو او لاس ته راوړنو د ولس تېر ایسـتنه او بیا د بیت المـال په مـال دغه خیـالي انځور پړسـول او د حکومـت پـه زور دا ریشـخند تمثیل رښـتیا ښـودل، هغه چاره ده چې شـاید پـه لنډمهـال کـې چلښـت ولـري؛ مگر پـه ډېـر نـږدې راتلونکي کـې به یې اصلـي څېـره بربنډېږي او رسوایي به یې هېڅکلـه د جبران وړ نـه وي، هغـه چـې د ۱۳۹۸ لمریـز کال افغان ولسـمشریزې ټاکنـې او هلتـه بیـا د ولـس پـڅ څـه چې هېـڅ گډون او له همدې حسـابه د غني رایـې مونږ ته دا راښـیي چې افغان ملت د نـړۍ د نـورو ملتونـو پـه توگـه نـور عمل غـواړي، ولـس غولونـه، چل، دوکـه، پراډ، ټگـي او پوپولیـزم کېـدای شي څـه وخت د ولـس حقانیـت سرگردانـه کـړي او بازار ولـري؛ مگـر دا ناممکنـه ده چـې ډېر عمر دې وکړي.

د روان توندلارې او ریشـخند پوپولیزم یوه بلـه بېلگـه پـه داسـې ډول چـې ولسـمشر غنـي څلویښـت کالـه پـه امریـکا کـې وو، مگـر هېڅکلـه یـې د خپلـې عاطفـې مجبـورۍ پـه وجـه کوم افغـان ماشـوم په غېـږ کـې نـه نیـو، ولـې اوس چې پـه کور د ننـه ولایتـي او بهـر تـه د الوتکو له لارې سـفر کـوي، د مسـافرو مینـځ تـه ځـان رسـوي، لـه خلکـو سره د خوالـه تر څنگ د هغـوی ماشـومان هـم پـه غېـږ کـې نیـسي او انځورونـه ورسره اخـلي؛ مگـر د ملتپالنـې پـه یو برعکس کردار کـې هره میاشـت بـه پـه زرهـاوو افغـان ماشـومان د ولسـمشر غنـي د لښـکرو او بهرنیـو دوسـتانو له لاسـه یې د بمونو او توپونو په پارچـو غلبیـل غلبیل او ټوټـه ټوټه کېږي، پـه سـترگو کـې پـه مرمیـو ویشـتل کېږي، بـې پـلاره کېـږي او د ژوند ټولې خوښـۍ ورڅخـه تـروړل کېـږي.

همـدا اوس پـه وردگـو کـې د یتیمانـو شـمېر لـه گڼلـو تېـر دی، پـه لغمان کې یـې همداسـې درواخله، د پـروان یتیمان خو د ارگ د دېوالونو سـیورې ته نشـه یې توکـې خرڅـوي، ډاکتر غنـي پـه پنځـه کلـن حاکمیـت کـې سـلو یتیمانـو تـه یـو دارالایتـام جـوړ نـه کـړ، خـو پـه هوایـي ډگرونـو او مسـافر وړونکـو ایربسـونو کـې بیـا لـه ماشـومانو سره داسـې انځورونـه اخلـي تـه بـه وایـې، چـې همـدا سړی لـه نـوي افغـان کهـول سره د مینـې او عاطفـې مجسـم سـمبول دی.

بـل لـور تـه دا ناروغـۍ یـوازې زمـوږ تـر واکمنـو او چارواکـو راټولـه نـه ده، کـه سړی وگـوري، نـو وبـه وینـې چـې پـه خواشـینۍ سره دا چـاره اوس د یـوه شـخصیتي خصلـت پـه توگه په یـوه ملي سـاري ناروغـۍ اوښـتې چـې د یوې پاکې ټولنـې روح زبېښـې او لـه حرکت او نوښـته یـې غورځـوي.

د بېلگـې په توگه، زمـوږ ځینې سیاسـتوال چـې ځانونـه روښـانفکران هم گڼـي او پر پیرانـو او حضرتانـو بـاور لـرل څـه چـې د ټولنـې د ډېـرو ټیټـو پاړکیو په سترگه هم ورتـه نـه گوري، خـو د عـوام فریبـۍ لپاره د همدغـو حضراتـو لاس مچـوي، د دې تـر څنـگ زمـوږ پـه ټولنـه کـې پوپولیزم د یـوې سیاسي تگلارې او ټولنیـز خصلت تـر څنـگ، اوس د مـلا او افتـا تر مسـنده هـم د یـوه سـلیقوي قرائـت د توجیـې پـه موخـه رسـېدلي چـې ښـې بېلگـې یـې د مجاهدینـو د رهبرانـو اوسـنې او پرونې دریځونـه، تفسـیرونه او حتـی د یـوه چـا، فکر او ډلـې پـر ملاتـړ او دښـمنۍ کې د تکفیـر تر کچـې فتواگانـې دي.

دا لـړۍ نـه یـوازې ونـه دریـده؛ بلکـې د تېـر پـه څېـر مگـر پـر یـو بـل تعریـف او دریځ کـې چـې هغـه درباري ملایـان او د استعمار پـه چوپړ کـې په اجره، کرایه او سـیاسي راشـن اموخته داسـې مفتیان دي چـې پـه تېـرو دوو لسـیزې کـې یـې تـل د جگـړې د دوام، د شرارت د شـدت او د افغـان وژنـې د تمدید پـه موخه تل د دیـن، مذهـب، منبر او مسـجد لـه دریځه نـاوړه گټـه اخیسـتې او د روانـي افغـان وژنـې د دریـدو پر ځـای یې مقابـل لورې پـه مـلا ورتـه ټپـولی او د انتقام اخیسـتلو تـر درشـله یـې هڅولـی، کـوم چـې د دغسـې څېـرو د پېژنـدنې مالوم ادرسـونه (۴۰ کالـه پـه ټوپـان کـې) د کریـم خـرم صیـب پـه څېـر لـه حقایقـو مالامـال کتابونـه دي.

بـل لـور تـه زمـوږ تـر څنـگ زمـوږ گاونډي هېوادونـه او ملتونـه هم لـه دغه درد څخه ځوریـږي، هغـه چـې پـه گاونـډ ایـران کـې د محمـد رضاشـاه بلواکـي رژیـم او د اسـلامي انقـلاب پـه دوران کـې یـې د احمـدي نـژاد او حسـن روحـاني دولتونـه هغـه حکومتونـه وو، چـې د خپلـو غـوړو ژمنـو پـر خـلاف وروسـته لـه هغـه چې واک تـه رسـېدلي، پـر خپلـو ولسـونو یـې میچنـې گرځولـې، ټولنیـزې ازادۍ یـې ور محـدود کـړې او پـه اقتصـادي برخـه کـې یـې د واقعیتونـو پرخـلاف گونـگ او پوپولیسـتي توجیحـات وړانـدې کـړې.

پر پاکسـتان او سـعودي ځکـه خبره کول منطقـي نـه ده، ځکـه هلتـه لـه سره د سیاسـت کولـو او واک چلولو سیسـتمونه د ولسـونو د ماشـیني کولـو، اسـتبداد او فسـاد زېږنـده دي، چـې ښـه بېلگـه یـې پـه پاکسـتان کـې د پنجـابي یـوغ او بـې عدالتـۍ پـر خـلاف د بلوڅـو او پښـتنو ملتپالـو خوځښـتونو راټوکېدنـه ده، هغـه چـې د پښـتون ژغـورنې غورځنـگ یـې د ټولنیـزو حقونـو پـه برخه کـې د نن مطرح خوځښـت دی.

د تاریخـي پـس منظـر پـه رڼاه کـې د دغسـې ټولـو جریانونـو مطالعـه مونږ دې پایلـې تـه رسـوي، چـې تر کله هـم ملتونه لـه لوېدیځـه تـر ختیځـه پـر خپلـه ملي او ولـسي آراده سـمبال خوځښـتونه رامنـځ تـه نـه کـړي او هغـه بیـا د واک اخیسـتلو تـر درشـله د ارزښـتي ولسـواکو دریځونـو پـه سـیوري کـې تـر رهبرۍ ونـه رسـوي، نـو د تاریخـي کتنو او موجـود حقیقت په پایلـه کـې بـه هېڅکلـه د خپلـو غوښـتنو اسـتازې ټولنـه او رهبري ونـه لـري.

دا ځکـه پـر نـړۍ واکمـن لوېدیځپالـه رهبرې چـې بنسـټیز عناصر یـې ډار اچونـه، یرغـل، اشـغال، د آزادو ملتونـو غلامـول او پـر نیسـبي ځـان بسـیاینې د ولاړو حکومتونـو نسـکورول دي، عملاً د دې اجـازه نـه ورکـوي چـې نـړۍ د پوپولیـزم، یرغـل او لـه یـو قطبـي حالـت څخـه بدلـون وکـړي. ځکـه کـه داسـې وشي، نـو پـه هغـه شـېبه امپرالیـزم ماتیـږي، د یرغل او اشـغال پـه مټ جوړه امپراتـورې یـې دړې وړې کیـږي، نـور د دربیمـې نړیوالـې جگـړې امکانـات صفر تـه راټیټیـږي او هغـه غربي نظم چې نن د اسـتعماري ثـروت او وحشـت پـه پایلـه کـې پـه یـوې آزادې نـړۍ واکمـن دی، پـای تـه رسـیږي.

# په افغانستان کې د پاکستان ستراتیژیکي موخې

لیکنه: صفت الله الفت

لومړی به پر ستراتیژیک عمق خبرې وکړم چې په انگلیسي کې ورته (Strategic Depth) وايي. دا نظامي مفکوره د انگلیسي استعمار په وخت کې هغه مهال رامنځ ته شوه، چې د امپراتوریو سیالۍ وې او انګریزانو دا نظریه د تزاري روسیې په مقابل کې پر مرکزي اسیا باندې د نفوذ لرلو په اړوند کاروله، چې په هغه وخت کې د (Great Game) یا سترې لوبې په مانا وه. دا نظریه په شلمه پیړۍ او د سړې جګړې په دوران کې پاکستان له انگلستان څخه زده کړه چې په هغه وخت کې پاکستان اټومي ځواک نه و، د پاکستان د دفاع لپاره یې همدا نظریه خپله پالیسي یاده کړه او پاکستان داسې سیاست غوره کړ، چې افغانستان باید د کوم بهرني هېواد او په ځانګړې توګه د هند تر اغېز لاندې نه وي. له پاکستان سره هغه وخت قسمت نوره هم یاري وکړه کله چې روس پر افغانستان یرغل وکړ او د روس د ماتې لپاره جهادي رهبران او په میلیونونو افغانان د پاکستان غېږ کې پرېوتل، چې له هماغه وخت راهیسې پاکستان د ستراتیژیک عمق د نظریې د پلي کولو لپاره د همدې افغانانو په مټ افغانستان ورانوي.

له نن څخه ۷۲ کاله مخکې په ۱۹۴۷ ز کال کې له افغانستان سره په گاونډ کې د پاکستان په نوم یو هېواد په ناڅاپي توگه له برېټانوي هند څخه وزیږېده. له زیږېدو څخه تر اوسه د سیمې، نړۍ او په ځانګړې توګه د خټیځ او لوېدیځ گاونډیانو لپاره د یوه ناعلاجه مرض په شکل دوام مومي. پاکستان د څلورو عمده علتونو له وجې په افغانستان کې خپل ستراتیژیک اهداف تر لاسه کول غواړي.

دا څلور عمده علتونه دا دي: د پاکستان د داخلي امنیت پېچلتیاوې، د بهرني امنیت ننګونې، د کورني سیاست متحرکات او د اقتصادي سرچېنو لټون. پاکستان د خپل ژوند د بقا لپاره له پیل څخه افراطي ډلې د ځان لپاره یو ستراتیژیک هدف ټاکلی او خپلې سیاسي، امنیتي او اقتصادي ګټې یې له افغانستان سره په همدې پورې تړلې دي.

ستراتیژیک اهداف یو پراخ تعریف لري او ستونزمنه ده چې په دې لیکنه کې ټول ځای شي، خو زه به یې هغه عمده ستراتیژیک اهداف تاسو ته ذکر کړم.

د پاکستان لومړی ستراتیژیک هدف دا دی چې افغانستان له هند سره نږدې اړیکې ونه لري او ونه پالي او د افغانستان بهرنۍ پالیسي د پاکستان په خوښه او تر اغېز لاندې وي. دویم هدف یې دا دی چې د ډیورنډ د فرضي کرښې په اوږدو کې مېشت پښتانه له افغانستان سره یوځای نه شي او یا چېرې د پښتونستان په نوم بېل هېواد جوړ نه کړي، چې د پاکستان خپلواکي د ګواښ او امنیت یې له خطر سره مخ کوي. دغه راز د پاکستان فاټا یا قبایلي سیمې د پاکستان د ستراتیژیک عمق یو مهمه برخه ده، چې په همدې لیکنه کې به وروسته پرې بحث وکړم.

د پاکستان درېیم ستراتیژیک هدف په افغانستان کې د پاکستان په خوښه د دولت جوړول دي، لکه د طالبانو امارت د پاکستان په ملاتړ د څو کلونو لپاره په افغانستان کې دوام وکړ او هند له افغانستان څخه لرې پاتې شوی و. همدارنګه په کابل کې د هندوستان سفارت او په مختلفو ولایتونو کې د هندوستان کونسلګرۍ پاکستان له اندېښنې سره مخ کړې دي. پاکستان نه غواړي چې هند په افغانستان کې نفوذ وکړي او یا پراخه حضور ولري او له دې څخه جدي وېره لري. پاکستان د هند د استخباراتو په اداري (RAW) او د افغانستان په امنیت ملي (NDS) تور پورې کوي چې د افغانستان په مختلفو ولایتونو کې یې کونسلګرۍ د پاکستان پر ضد جاسوسي کارونه تر سره کوي او په پښتونخوا او بلوچستان کې خلک ازادۍ ته هڅوي. هندوستان د امریکا او له متحدینو څخه یې وروسته له افغانستان سره دویم ستر مرسته کوونکی هېواد دی، چې د طالبانو له ماتې څخه وروسته تر اوسه یې په مختلفو برخو کې بلیونه ډالر مرسته دوام لري.

د پاکستان څلورم ستراتیژیک هدف د افغانستان له لارې مرکزي اسیا ته د پاکستان د تجارت پراخوالي او له مرکزي اسیا څخه ګازو او نفتو ته لاسرسی پیدا کول دي. پاکستان د خپل صنعت او اقتصادي ودې د پراختیا لپاره اړتیا لري چې له افغانستان څخه مرکزي اسیا ته د صادراتو او وارداتو لپاره ازاد لاسرسی ولري.

د پاکستان پنځم ستراتیژیک هدف افغانستان د ځان لپاره د یوه خوندي انګړ په بڼه ساتل دي. که چېرې هندوستان پر پاکستان برید وکړي، نو پاکستان اړ دی چې د ځان د دفاع لپاره او د ناکامۍ او تسلیمۍ د مخنیوي لپاره یو پناه ځای پیدا کړي او د دې پناه ځای په موخه پاکستان د ځان لپاره افغانستان یوخوندي ځای احساسوي. پاکستان دا وېره لري که له ختیځ څخه ورباندې هند برید وکړي او لوېدیځ کې افغانستان هم یو قوي هېواد وي او د پاکستان تر اغېز لاندې نه وي، نو پاکستان په دې حالت کې ځان د ختیځ او لوېدیځ ګاونډیو له خوا محاصره او تسلیم بولي.

د پاکستان شپږم هدف د هغو افغان کډوال ایستل دي چې د پاکستان د اقتصاد لپاره ګټور نه دي او پاکستان ورته د شک په سترګه ګوري. پاکستان د افغان مهاجرینو په سر د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو د ادارې (UNHCR) او له نورو نړیوالو سازمانونو څخه په میلیونونو ډالره مرسته تر لاسه کوي او بیا له همدې مهاجرینو څخه پر افغانستان باندې د فشار د آلې په توګه هم کار اخلي.

د هند نفوس او نظامي قوت له پاکستان څخه پنځه چنده زیات دی او په نړۍ کې دویم د زیات نفوس لرونکی هېواد دی. پاکستان غواړي چې له هند سره په افغانستان کې د ځواک توازن وساتي چې دا د پاکستان د توان خبره نه ده، ځکه چې پاکستان د هند په پرتله ډېر کمزوری اقتصاد لري او نه شي کولای چې له هند سره د افغانستان په جوړولو کې اقتصادي سیالي وکړي؛ نو د سیاسي تاوتریخوالي له لارې په افغانستان کې د هند د نفوذ او د افغانستان د پرمختګ مخه نیسي.

په کابل او نورو ولایتونو کې د هندوستان پر سفارت، کونسلګریو او همدارنګه پر هندي کارکوونکو او پرمختیایي پروژو په ځانګړې توګه د برېښنا پر بندونو د پاکستان له لورې بریدونه کېږي. پاکستان په افغانستان کې د هند نفوذ د خپل بهرني امنیت لپاره ګواښ ګڼي او د دې ګواښ د مخنیوي لپاره له هرې مشروع او نا مشروع لارې څخه ګټه اخلي.

پاکستان د پورتنیو ستراتیژیکو اهدافو د تر لاسه کولو لپاره په ښکاره د سفارت او کونسلګریو په واسطه له ډیپلوماټیکو لارو څخه کار اخلي او په پټه بیا د حقاني شبکې، طالبانو، القاعدې او نورو ترهګرو ډلو، په افغانستان کې د پاکستان د جاسوسانو، د لر قبایلي پښتنو او له نورو ممکنه لارو کار اخلي.

د پاکستان اووه قبایلي سیمې چې نږدې ۱۵ لس میلیونه پښتانه په کې مېشت دي او د پاکستان د نفوس ۱۵ سلنه برخه او د پاکستان د مساحت په تخمیني توګه درېیمه برخه تشکیلوي، پاکستان ورته د اقلیت په سترګه ګوري او د نورو پاکستانیانو په پرتله په ښکاره توګه له زیاتو بشري حقوقو څخه بې برخې دي او پاکستان ترې د شطرنج د تختې په څېر ګټه اخلي، چې د افغانستان او هند پر وړاندې ترې په نیابتي جګړه کې کار اخلي. پټه دې پاتې نه وي چې د قبایلي سیمو ځینې تعلیم یافته پاکستاني پلوه د پاکستان د استخباراتي اداري(ISI) او د پاکستان د پوځ لپاره په مختلفو برخو کې کار کوي. په پاکستان کې د افغانستان پر ضد اصلي پالیسي جوړوونکي پنجابیان دي، خو د پالیسۍ د اهدافو تر لاسه کولو لپاره له لر پښتنو څخه چې زیات یې په قبایلي سیمو کې مېشت دي او د پاکستان له امنیتي ادارو سره پر کار بوخت دي او د افغانستان له ژبې، کلتور او مذهبي حساسیتونو سره ډېره بلدتیا لري، ترې کار اخلي. که د پاکستان سفارت او کونسلګریو کارکوونکي ووینی، زیات یې د پاکستان په قبایلي سیمو پورې تړاو لري. پنجابي نظامي مشران له لر پښتنو سره زیات وخت په ناستو کې د هغوی د لمسون او هڅونې لپاره د پښتو دا متل هم ورته وایي : «پښتانه چې څو په جنګ کې نه وي، په امن کې نه وي».

دا هم باید په یاد ولرو چې په لر پښتنو کې هم زیات د افغانستان خواخوږي شته او په ویاړ ځان افغانان بولي چې د پنجاب او د ډیورنډ د فرضي کرښې مخالف دي، خو د پاکستان د فشار له امله په هغه سیمه کې د ناچارۍ شپې او ورځې تېروي.

# پلازمېنه کابل د وحشت په لومو کې؛

## د امنیتي ادارو له ژمنو سره سره، جرم او جنایت اوج ته رسېدلی دی



سره له دې چې امنیتي ادارو په ځلونو په کابل ښار کې د نوي امنیتي پلان د عملي کېدو او اقداماتو خبر ورکوي، خو دغه ښار لا هم نا امنه دی. نږدې هره شپه او ورځ په کابل ښار کې وحشتناکې او بوږنوونکې جنایي پېښې رامنځ ته کېږي، چې ځینې یې تر رسنیو او حکومتي ادارو رسېږي، خو ځینې یې بیا پټې پاتې شي. همدا وړمه ورځ ماښام په کابل ښار کې وحشتناک جنایت تر سره شوی، خو امنیتي ادارې تر اوسه د دغه جنایت عاملین او لامل نه دي معلوم کړي. اجرایه رییس، مشرانو جرګې او نورو ارګانونو د دې پېښې پلټنه غوښتې ده.

د کابل ښار د ډېرې ناحیو اوسېدونکي په وروستیو کلونو کې خپله ورځ د جنایي خبرونو په اورېدو پیلوي او پای ته رسوي. نږدې په هره ساحه کې وسله والې غلاوې او یا تښتونې کېږي. په وروستیو کې په ټولنیزو رسنیو کې د ناامنیو پر ضد پراخ کمپاین پیل شو، چې کورنیو چارو وزارت اړ شو په دې اړه اقدامات وکړي. د کورنیو چارو وزارت وویل چې د کابل ښار د امنیت لپاره یې اوپراتیفي یو میاشتنی عملیات پیل کړي او د دغه ښار د امنیت لپاره به اقدامات کوي؛ خو تر اوسه په وضعیت کې محسوس بدلون نه دی راغلی.

وړمه ورځ ماښام مهال د کابل ښار د جنګلک په سیمه کې یوه کور ته ناپېژانده کسان ورځي او د دغه کورنۍ څلور غړي د تبر او ترښځې په ګوزارونو وژني. د کورنۍ مشر د ترانسپورټ وزارت کارکوونکی دی او وایي چې له هېچا سره شخصي مشکل نه لري. دغو کسانو په دې کور کې درې ماشومان او یوه مېرمن وژلې دي. پرون وژل شوي کسان په پغمان کې خاورو ته وسپارل شول او نږدې خپلوان یې حکومت د امنیت په تامین کې پړ بولي. د دوی په خبره، حکومت نه دی بریالی شوی چې ان د پلازمېنې کابل امنیت تامین کړي او له دې امله قاتلینو، غلو او غیر مسوولو وسله والو ته زمینه برابره شوې چې په هر ډول وحشت او جنایت لاس پورې کړي.

د وژل شوو ماشومانو ماما محمد قاسم وایي، حکومت پر دې نه دی بریالی شوی چې امنیت تامین کړي، نو اوس ضرور ده چې د پېښې عاملین ونیسي او سزا ورکړي. هغه وایي: «حکومت باید دوی ونیسي، هر څوک چې مراعات ورسره وکړي، هغه په دې قتل کې شریک دي».

جنازې ته راغلو نورو خلکو هم پر حکومت سختې نیوکې وکړې او وایي، دوی به کله د ولس غږ اوري او څه وخت به امنیت تامینوي.

د میلاد په نوم د دې کورنۍ یو نږدې خپلوان وایي، د حکومت مشران ناکام دي. هغه وایي: «دا څه ډول حکومت دی، د خلکو امنیت نه دی تامین، در ټول کړئ دا خوسا حکومت».

دا یوازینۍ وحشتناکه پېښه نه ده چې په کابل ښار کې رامنځ ته کېږي، بلکې څه موده وړاندې د کابل ښار په کارته سخي سیمه کې هم د یوې کورنۍ غړي د وسله والو په برید کې ووژل شول. وسله وال شپه مهال دغه کور ته ورغلي وو او د ښځو او ماشومانو په ګډون یې د دې کورنۍ څو غړي وژلي وو. حکومت هغه مهال هم ژمنه کړې وه چې د کابل امنیت به تامینوي او د جنایي پېښو په کچه کې به د پام وړ بدوالی راشي.

کورنیو چارو وزارت د تازه پېښې په اړه څه نه وایي، خو ټینګار کوي چې دوی به هر اړخیزه پلټنه کوي او معلومات به وروسته له رسنیو سره شریکوي.

بلخوا اجرایه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله بیا د وزیرانو شورا په غونډه کې وویل، چې د کابل ښاریان د امنیت له اوسني وضعیته شکایت لري او په خبره یې، د دې وحشتناکې پېښې په اړه باید هر اړخیزې پلټنې وشي. عبدالله عبدالله امنیتي ادارو ته لارښوونه وکړه چې ارو مرو دې د دې پېښې عاملین ونیسي او د قانون منګولو ته یې دې وسپاري. د مشرانو جرګې رییس فضل الهادي مسلمیار هم په پرونۍ غونډه کې دا پېښه زړه بوږنوونکې بللې ده او له امنیتي ادارو یې غوښتي چې د کابل ښار د امنیت لپاره جدي ګامونه اوچت کړي.

# شینزو ابې: له امریکا سره به په گډه د اسیا پاسیفیک په سیمه کې خپل دفاعي رول پراخ کړو

د جاپان لومړي وزیر شینزو ابې ویلي چې له متحده ایالاتو سره به په ګډه د اسیا پاسیفیک په سیمه کې د خپل هېواد رول پراخ کړي.

هغه زیاته کړې چې له امریکا سره د امنیتي تړون په چوکاټ کې به په بهرنۍ او سایبري فضا دواړو کې د خپل هېواد رول ته پراختیا ورکړي.

ابې دغه څرګندونې د جاپان او متحده ایالتونو تر منځ د هغه تړون د ۶۰مې کلیزې د نمانځلو په مناسبت په وینا کې کړې، چې پر بنسټ یې له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د دواړو هېوادونو تر منځ دفاعي اتحاد رامنځ ته شوی دی. دغه تړون د ابې نیکه نوبوسوکې کیشي چې هغه وخت د جاپان لومړی وزیر و، د ۱۹۶۰ ز کال د جنورۍ په ۱۹مه په واشنګټن کې د امریکا د وخت له ولسمشر دوایټ ایزنهاور سره لاسلیک کړ. د دغه تړون له مخې، په لسګونو زرو امریکایي پوځیانو او جنګي بېړیو ته اجازه ورکړل شوه چې په جاپان کې ځای پر ځای شي. په ورته وخت کې متحده ایالتونو یې هم په بدل کې دا مسوولیت اخیستی چې پر جاپان د برید په صورت کې به له دغه هېواده دفاع کوي. د جاپان لومړي وزیر شینزو ابې دغو مراسمو ته په پرانیستونکې وینا کې ویلي، چې موږ اړیکو ته دومره پراختیا ورکړې چې جاپان او متحده ایالتونه به یو د بل ساتنه کوي چې په دې توګه مو اتحاد لا پیاوړی کوي.

هغه زیاته کړې: «وړاندې دا په موږ پورې تړلې چې دغه تړون لا پیاوړی کړو، څو د بهرنۍ او سایبري فضا دواړو د امنیت او سولې د خوندي کولو لپاره هغه یو اساس وګرځوو».

د یادونې ده چې جاپان او متحده ایالتونه د ستراتېژیک شراکت ۶۰مه کلیزه داسې مهال نمانځي، چې واشنګټن پر توکیو فشارونه زیات کړي چې د مالي لګښتونو ډېر بار ته اوږه ورکړي او هم د اسیا پاسیفیک په سیمه کې خپل دفاعي رول پراخ کړي، څو امریکا وکولای شي چې خپل حضور کم کړي.

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د دواړو هېوادونو تر منځ د تړون د ۶۰مې کلیزې په مناسبت یوه پیغام کې ویلي چې دې ته په پام سره چې امنیتي فضا تغییر کوي او نوي چلېنجونه مخې ته راځي، دا مهمه ده چې تر منځ یې اتحاد لاپیاوړی او ژور شي. ټرمپ زیاته کړې، دی ډاډه دی چې راتلونکې میاشتې او کلونه به د دوی د ګډ امنیت لپاره د جاپان ونډه زیاته شي او دغه اتحاد به مخ پر وړاندې لاړ شي.

## د کتـــاب خبـرې

# د رهبرۍ اخلاق

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میراحمد یاد

## د کاروبار پر اخلاقو څه شوي دي؟




**دا ځل کیسه شخصي ده**

زموږ یوه ستونزه دا ده چې اخلاق هېڅکله کاروباري، سیاسي او ټولنیزه موضوع نه شوه. دا تل شخصي موضوع وي. خلک وايي چې شفافیت غواړي؛ خو جالبه دا ده چې څېړنې ښيي، زیاتره خلک چې له نورو شفافیت غواړي، خپله بیا دومره شفافیت او صداقت نه کوي. د پوهنتون په محصلینو کې (۸۴)سلنه پر دې نظر دي چې امریکا کاروباري بحران تجربه کوي او (۷۷)سلنه یې وايي چې اجراییوي رییسان یې باید مسئولین وګڼل شي. له بلې خوا د همدې محصلینو (۵۹)سلنه دا مني چې په ازموینو کې یې درغلي کړې ده.(۱۴)

کوم انسان چې له مالیاتو غلا کوي او د دفتر وسایل پټوي، همدا کس چې د کوم شرکت ونډې اخلي، کومو سیاسیونو ته چې رایه ورکوي او له کومو پېرېدونکو سره چې کاروباري معاملې کوي، له دې ټولو د شفافیت او رښتنیولۍ تمه لري.

په کاري چاپېریال کې (۴۳) سلنه خلک دا مني چې تېر کال لږ تر لږه په یوه غیراخلاقي عمل کې دخیل وو او (۷۵) سلنه خلکو بیا دا غیراخلاقي چلن لیدلی؛ خو سترګې یې پرې پټې کړې دي. (۱۵) کوم انسان چې له مالیاتو غلا کوي او د دفتر وسایل پټوي، همدا کس چې د کوم شرکت ونډې اخلي، کومو سیاسیونو ته چې رایه ورکوي او له کومو پېرېدونکو سره چې کاروباري معاملې کوي، له دې ټولو د شفافیت او رښتنیولۍ تمه لري.

په خوله د اخلاقو خبرې اسانه دي او بل څوک چې د اخلاقو په ازموینښت کې ناکام شي، هغه ته غوسه تر دې خبرو هم اسانه ده، په تېره هغه وخت چې موږ د نورو خلکو د ناسمو کارونو پر ضد یو. موږ چې له ناسمو انتخابونو سره مخ شو، څه کوو؟ د شلمې پېړۍ په اتمه لسیزه کې پخواني ولسمشر رونالډ ریګن د اقتصاد په اړه ویلي وو چې که ستاسو ګاونډی اوزګار شي، دا اقتصادي ځوړ دی؛ خو که تاسو خپله اوزګار شوئ، نو دا اقتصادي ناورین دی. اخلاق هم همداسې دي، کله چې انسان پرېکړه کوي، نو دا بیا ډېر زیات سخت وي.

**د اخلاقو د ګټې اندازه**

زه غواړم چې بااخلاقه اوسم او باوري یم چې تاسو هم غواړئ. د دې ترڅنګ زه پوهېږم چې په کاروبار کې د سمو کارونو په کولو بریالیتوب ترلاسه کول واقعاً ممکن دی. په واشنګټن کې د اخلاقو د سرچینو د مرکز په وینا، کوم شرکتونه چې سم کار ته ژمن دي، دوی ټولنیزو مسئولیتونو ته یوه لیکلې ژمنه لري او عمل پرې کوي. دا شرکتونه تر هغو ډېر ګټور دي چې دا ژمنلیک نه لري. د جونسن اینډ جونسن شرکت رییس جیمز برک وايي:((که تاسو دېرش کاله مخکې په «ډو جونز» د ونډو بازار کې ( ۳۰۰۰۰) پانګونه کړې وای، نو اوس به مو شتمني (۱۳۴۰۰۰) ډالره وه؛ خو که مو همداسې پیسې په دغو ټولنیزو او اخلاقي ژمنو شرکتونو کې لګولې وای، نو اوس به مو یو میلیون درلودای.)) (١٦)

کوم شرکتونه چې سم کار ته ژمن دي، دوی ټولنیزو مسئولیتونو ته لیکلې ژمنه لري او عمل پرې کوي، دا شرکتونه تر هغو ډېر ګټور دي چې دا ژمنلیک نه لري.

که تاسو اخلاقي چلن خپل کړئ، نو پخپله به مو شتمن او بریالي کړي؟ نه داسې نه ده. دا د بریالیتوب لاره درته برابرولای شي؟ بالکل یې برابروي! اخلاق + وړتیا = ګټه
څوک چې د اخلاقو پولې امتحانوي، حتما به ترې اوړي.

په اوږده مزل کې لنډې لارې هېڅ ګټه نه کوي. ښایي د لنډ وخت لپاره خلک تېرایستل شي؛ خو د اوږدمهال لپاره نه کېږي، ځکه حقیقت ښکاره کېږي او چارې به یې ونیول شي. د لنډ وخت لپاره اخلاقي چلن ښایي بایلل ښکاره شي (لکه یو څوک چې په بداخلاقۍ ځان د لنډ وخت لپاره ګټونکی ښودلای شي.) خو په اوږدمهال کې بایلات د هغو خلکو وي چې بې اخلاقو ژوند کوي. تاسو تر اوسه پورې داسې کس لیدلی چې په ټګۍ برګۍ یې دې ژوند سر ته رسولای وي؟

سلیمان علیه سلام دا خبره په دې طریقه کړې ده:((د سمو خلکو لارې روښانه وي، دوی چې څومره اوږد ژوند کوي، هومره به ځلېږي؛ خو د ناسمو خلکو لاره بیا توره تیاره وي، پر دې لاره روان خلک هېڅ هم نه ګوري او پر مخ غورځېږي.)) (۱۷)

امریکایي استازي او د ښوونیزو حقونو مدافع جابز ایل. ایم کیوري ویلي:((رښتینی دولت باید د اخلاقي کرکټر پر اساس رامنځته شي او دا کرکټر یې د قوت اساسي عنصر او د دوام او بریالیتوب تضمین دی.)) همدا خبره د کاروبار، کورنۍ او هر هغه شي په اړه کېدای شي چې تاسو یې دوام غواړئ. دغه بنسټ په ټوله کې د ادارې یا سازمان له خوا نه شي جوړېدای، بلکې د هر فرد له خوا یې باید جوړېدل پیل شي او دا باید پر سمو کارونو د یوه دوامداره فشار په شتون کې ترسره شي.

بېرته به لومړیو ته لاړ شو. تاسو څه پوهېږئ چې څه سم دي؟ په ډېرو سختو حالاتو کې څنګه حرکت کوئ؟ داسې معیار چېرته پیدا کولای شئ چې په هر حالت کې درسره مرسته وکړي؟ داسې لارښود چې د شپې درسره په ښه خوب کې مرسته وکړي، په کاروبار کې مو بریالی کړي، ګډ ژوند مو ښه کړي او په ټولو چارو کې مو پر ځان باور پیدا کړي؟ زه چې دې ټولو پوښتنو ته کوم ځواب ښه او مناسب ګڼم، په راتلونکي څپرکي کې به یې درته وړاندې کړم.

**دوام لري...**

# میشل فوکو

شفیق امیرزی

میشل فوکو د نړۍ په کچه مشهور فرانسوی لیکوال، فیلسوف، تاریخ لیکوال، لرغونپوه او معاصر متفکر دی. دی په یوه شتمنه کورنۍ کې زیږېدلی دی. پلار یې پل فوکو نومېده، شتمن جراح و. په ۱۹۲٦ز کال کې د اکتوبر په ۱۵مه د فرانسې د سنت موار په پواتیه سیمه کې زیږېدلی دی. لومړی یې نوم پول و، خو وروسته یې میل فوکو نوم غوره کړ. دی د فکري نظامونو د تاریخ په مرکز کې د ځانګړې علمي څوکۍ خاوند و، همدا راز یې د فرانسې په دو فرانس کالج کې تدریس کړی دی. د نیویالک په ایالتي پوهنتون او د کالیفرنیا پوهنتون په برکلي کې یې استادي کړې ده. دی ځکه مشهور دی چې د ټولنې، سیاست او تاریخ په اړه یې مهم او انقلابي نظریات درلودل. دی د شلمې پېړۍ له مهمو متفکرانو ګڼل کېږي. فوکو همدا راز د پست مدرنېزم جریان له مخکښانو او رهبرانو ګڼل کېږي. وروسته یې له دې بهیر سره پرېکون وکړ، ده ویل چې په پست مدرنېزم بهیر کې نور کار نه لري، خو سره له دې هم دی د دې بهیر مخکښ او له رهبرانو ګڼل کېږي. دی بیا وايي چې د نیچه ملاتړی دی او د هغه پیروي کوي.

مخکې مو هم یادونه وکړه، چې فوکو په یوه شتمنه کورنۍ کې زیږېدلی و. د ځوانۍ عمر یې له سختو هسکو ټیټو ډک و. له رواني ستونزې سره مخ و، چې بیا یې د خپلې ځوانۍ ډېره برخه د رواني ارامتیا په یوه مرکز کې تېره کړه. هلته له لویې آلتوسر سره معرفي شو. آلتوسر دی وهڅاوه چې مارکسیست شي، خو فوکو پېچلی شخصیت درلود. اریبون هغه کس دی چې د فوکو ژوندلیک یې لیکلی دی. دی وايي، فوکو یو پېچلی شخصیت دی، د ده د ټولو اړخونو راسپړل اسانه کار نه دی او په اسانه یې تشریح سخته ده. د هغه پر اخلاقي چلندونو هم ډېرې لیکوالانو او تحللګرانو نظریات لیکلي دي او د ده ځینې کړنې یې غندلې دي.

کلونه کېږي چې میشل فوکو له دې نړۍ تللی دی، خو لا هم د هغه نظریات ډېرو ته د اهمیت او ارزښت وړ دي. د فوکو بریا په دې کې ده چې د خپلو همعصرو پر خلاف یې نظرونه ورکړل او د دوی خبرې یې کټ مټ ورسره ونه منلې. د هغه نظریات فوق العاده جذابیت لري. د پوهې د څرنګوالي، قدرت، ټولنیز جوړښت او نورو ورته مسایلو په اړه د هغه نظریات او تحلیلونه لا هم تاریخي او مهم ګڼل کېږي. د ده نظریات لا هم د عقلانیت د پیاوړتیا او قوت لپاره مهم دي. ښایي ډېرو ته دا عجیبه وي، چې په تېرو لسیزو کې یوه ډله فیلسوفانو، د فلمي ستورو په څېر محبوبیت او شهرت ګټلی دی. د بېلګې په توګه، هایدګر تر دویمې نړیوالې جګړې مخکې یوازې په آلمان او ځینو نورو شاوخوا هېوادونو کې مشهور فیلسوف و، خو تر جګړې وروسته سره له دې چې له نازیانو سره یې فکري نږدېوالی درلود، ناڅاپه نړیوال شهرت ته ورسېد.

خو میشل فوکو هم د اویایمې لسیزې له دویمې نیمایي وروسته تر خپل مرګ پورې د نړۍ تر ټولو نوموتی فلسفي شخصیت و. هغه له دې وروسته د نړۍ په کچه مشهور و. د میشل فوکو فکر د اسلامي نړۍ په ځینو هېوادونو لکه ایران کې هم ښې ریښې وځغلولې. ده به تر ډېره د ایران د انقلاب پېښې لیکلې او له فلسفي بحثونو سره یې ګډولې. فوکو به تل کل سر ګرځېده. ده جذابه وینا کوله، مخاطبان یې ښه جذبولی شوای. پر ټولو یې اغېز کاوه. د میشل فوکو پیاوړې ژبې او منطقي بحث د هغه جذابیت دوه چنده کړی و. ښه به وي چې د فوکو د ژوند پر ځینو مسایلو رڼا واچوو؛ ځکه د دوو لسیزو په اوږدو کې د هغه نظریات ډېر وخت بدل شوي دي. فوکو ډېر کم ځان فیلسوف بولي، خو تر ډېره ځان ته د منتقد کلمه او لقب کاروي. فوکو په پست مدرنېزم کې د پیاوړو نظریاتو د موجودیت له امله ډېر مشهور شو. فوکو ویل، ژبه د نړۍ حقیقت نه بیانوي، بلکې د شخصي تجربو انعکاس دی. ده د انسان پېژندنې په مطالعاتو کې وویل، چې د ژبې د کارونې او قدرت تر منځ یو ډول تړاو موجود دی. په داسې توګه چې ژبه د قدرت لرونکو او امتیاز لرونکو لپاره د وسیلې په توګه کار ورکوي. په همدې توګه دوی کولی شي په ټولنه کې خپل ټولنیز او سیاسي موقف لوړ کړي او یا یې وساتي.

د فوکو په اړه ویل کېږي هغه چې په هر معیار وسنجول شي، د شلمې پېړۍ یو پیاوړی متفکر دی. د هغه نظریات تل په بېلابېلو مجلسونو کې د بحث موضوع وي. ده تر ډېره په ټولنه کې د واک یا قدرت په اړه تحقیقات او لیکنې کړې دي. ده په ټولنه کې د قدرت په اړه تحقیقات کړي دي، د دې مسئلې د اصلي جرړې په پیدا کولو پسې وتلی دی. د فوکو فکر په حقیقت کې په فرانسه کې د شپېتمې او اویایمې لسیزې د اشوبونو او ګډوډیو محصول دی. فوکو وايي، په ټولنه کې ټولې ټولنیزې اړیکې په حقیقت کې د قدرت اړیکې دي. دی وايي، قدر په دې مانا نه دی چې ته دې ارو مرو واکمن وې یا دې په واک کې پاتې شې؛ بلکې واک او قدرت د اړیکو د قوت سبب ګرځي.

فوکو د یوې ګډې وډې او له ناندریو ډکو زماني انسان و. ده د ځوانۍ په وخت کې د فرانسې سړکونه او د پوهنتونونو مخې له لاریونونو او ناندریو ډکې وې. محصلینو به د سیاسي اقتدار پر وړاندې غبرګون ښوده او پر وړاندې به یې درېدل. د خلکو ژوند بدل شوی و. دوی ان غوښتل چې د کور د ننه او بهر چارې هم سره تقسیم کړي. دوی به ویل، دا باید معلومه وي چې د بهر کارونه او د کور کارونه څوک وکړي. پر همدې بنسټ د فوکو نظریاتو هم وده کوله او د ژوند په ټولو برخو کې یې د قدرت او انساني غوښتنو په اړه تحقیقاتو ته مخه کړه.

داسې یو تصور دی چې قدرت بل څه نه دی، یوازې هغه وړتیا ده چې د قدرت لرونکي یې لري، دوی هڅه کوي چې خپله اراده او پلانونه پر هغو عملي کړي چې قدرت نه لري، یا پر دوی هغه کارونه کوي چې کړلو ته یې زړه نه ښه کوي. فوکو پر دغه نظریه نقد کوي. دی وايي، قدرت تر ډېره یوې تګلارې ته ورته دی، د کارونو د تر سره کولو بڼه ده، نه هغه څه چې تاسې غواړی تر لاسه یې کړی. دا د اړیکو یو نظام دی چې په ټوله ټولنه کې له کورنۍ، ښوونځي، ادارې، نارینه، ښځینه او نورو ټولنیزو ډلو تر منځ خور دی. نو قدرت یوازې دا نه دی، چې د پولیسو او دولت په څېر یوازې د ځانګړو بنسټونو تر منځ موجود دی او دوی یې د نورو د ځپلو لپاره کاروي. مارکسیستانو د دوی خلاف نظر ورکاوه، ویل به یې چې باید له لوړې طبقې قدرت عملي شي او همداسې راشي.

له همدې امله فوکو په ځینو سیاسي فعالیتونو کې هم برخه اخیسته. ده د داسې لاریونونو په تنظیم کې هم لاس درلود، چې واک یې ځپلو او د با سلطه واکمنانو پر ضد یې اقدامات کول. ده پر ښځو د نارینه وو له سلطې سره مخالفت کاوه، د واکمنانو افراطي فعالیتونه یې نه خوښول او پر دې ډول بنسټونو او فعالیتونو یې بریدونه کول.

فوکو د تنبه او مراقبت په نامه کتاب کې نور بحثونه هم کوي. دی وايي، په ټولنه کې د اصلاحاتو لپاره سره له دې چې لکه د تېر په څېر مجازات نه عملي کېږي، خو بیا هم د نظارت یوه نوې بڼه د مجازاتو پر ځای کارول کېږي. دی د زندانونو په اړه لیکل کوي چې واکمنان د واک د ساتلو لپاره د تنبه یا مجازات کولو کوم قوانین کاروي. دی د هغه زندان مثال ورکوي چې لوړ برجونه لري او له دې برجونو د زندان ټولې کوټې څارل کېږي. له همدې امله وايي چې د مجازاتو بڼه نظارتي شوې ده، چې داخلي انضباط یې راوستی دی او دا پخپله د قدرت د اعمال یوه بڼه ده.

فوکو وايي، هره ټولنیزه رابطه د قدرت رابطه ده؛ خو د قدرت هره رابطه په دې مانا نه بولي، چې هرو مرو دې پر سلطه یا واکمنۍ ختمه شي. د ده په نظر، مډرن ټولنیز قدرت، د شبکه یي اړیکو پر بنسټ جوړ شوی نظام دی. په دې مانا چې کسان پخپله ځان د ځواکمنو په لومو کې ایساروي.

فوکو تر ډېره پر سیاست او ټولنیز نظام لیکنې کولې. هغه یو ازاد فکره انسان و او د دې ملاتړی و، چې د خلکو فکر ته باید درناوی وشي. هغه په همدې تړاو کتابونه لیکل او مقالې یې خپرولې. د ده مشهور اثار: د څېزونو نظم، د خبرو اترو نظام، مراقت او تنبه، د کلنیک پیدایښت، د لیونتوب تاریخ او د جنسیت تاریخ دي. ده نور کتابونه هم لیکلي دي چې تر ډېره بحثونو او خبرو اترو ته ورته دي، په هغه کې یې له چاپېریال او سیاسي چوکاټونو بحثونه او سوژې را اخیستې دي. د ۱۹۵۰ز کال په لومړیو کې فوکو د مشهور آلماني لیکوال فریدریش نیچه تر اغېز لاندې و، چې د ده پر فکر یې ډېر اغېز درلود.

د هغوی لپاره چې فکر کوي فلسفه باید د ابدي جوهر په لټه کې وي، د فوکو لیدلوری ورته اصلاً قانع کوونکی نه دی. خو هغه کسان چې په دې باور دي، چې هر فرد ابدي ښکاري، خو د بېلو نسلونو په چوکاټ او د بېلو جغرافیایي محدودو په منځ کې یې بدلون کړی دی، د هغوی لپاره د فوکو نظریات هم مهم دي. نوموړی وايي، انسانان ازاد ژوند کولی شي، خو د ازاد ژوند لپاره باید د قدرت پر ځای په ازادۍ پسې وي. د ده په خبره، یوازې ځواک نه دی چې انسان ازادولی شي؛ بلکې ډېر داسې څه شته چې انسان باید له هغه د ازادۍ لپاره ګټه واخلي. له همدې امله وايي چې انسان یوازې له ځواکه د تېښتې لپاره باید ازادي ونه وايي؛ بلکې په ډېرو ازادیو او ډېرو پرمختګونو پسې دې وي.

فوکو د انساني ژوند او د هغه د پیدایښت په اړه هم جالب نظریات لري. دی په دې باور دی چې د انسان نقش یا رول یې د خپل سرنوشت په ټاکلو کې کم دی او امکانات یې لږ په واک کې دي. دی وايي، علم د انسان په واک کې دی، ترې استفاده کولی شي، خو یوه ورځ به انسان لکه د سمندر د غاړې د اوبو څک او ریګونه ورکېږي او محوه کېږي به. دې مسئلې هم پر میشل فوکو نیوکې ډېرې کړې. ډېرو ویل چې ده انسان پالنې ته شا کړې ده او یوازې خپل فکر ورته سم ښکاري. فوکو وايي، نننی انسان د علم زیږنده دی. په دې مانا چې د ده په خبره، علم انسان ته دا امکانات برابر کړل چې په اوسنۍ بڼه وي، که نه، انسان ځانګړې تعریف لري، تاریخ لري، وخت لري چې پوره شي او ختمېږي. دی په دې باور نه دی چې انسان دې ابدي وي، بلکې په دې باور دی چې ختمېږي او محوه کېږي.



همیانی

# د کاري مسوولیت له منلو مخکې له ځانه حتماً دغه پوښتنې وکړئ

ژباړه: امان الله «حنیفي»

معمولاً زموږ ډېریو لپاره د یوه کاري فرصت په لاس راتلل له ډېرې خوښۍ سره مل وي. که تاسې هم له دې ډلې کسانو یاستی، ښه ځانگړنه نه لری. ځکه تاسې د یو اندک او یا هم له توان، وړتیا، مسلک، مهارت او علاقې خلاف یو کاري مسوولیت منلو ته هم تیار یاستی. پام مو وي، په کار او دنده کې تر ټولو ارامي او عزت نفس ډېر مهم دي. که د یو کاري مسوولیت اخیستو پر مهال دقیق فکر ونه لری، ممکن ډېر ژر د دغه بد دام ښکار شی. ښه ده چې د یو کاري فرصت له گټې اخیستو یا د هغه له مسوولیت منلو مخکې د هغه ټول اړخونه ښه و ارزوئ. موږ په همدې اړه درته ځینې سپارښتنې کوو، څو تاسې د یو بد او په اصطلاح یو داسې مسوولیت د منلو په دام کې گیر نه شی، چې وروسته درته په درد سر بدل شي.

د یو کاري مسوولیت د منلو یا اخیستو پر مهال د هغه منلو ته ډېره بیړه مه کوئ، کولای شی د هغه د ښه ارزولو لپاره له ۴۸ تر ۷۲ ساعتونو وخت واخلی او له ښه دقیق لوستو وروسته د هغه په اړه اخري فیصله وکړی. تاسې هم دغه ځینې موارد په نظر کې ولری، څو یوه ښه پرېکړه وکړی.

۱ـ ایا کولای شم چې تر راتلونکو دوو کلونو پورې ځان په همدې موقف کې تصور کړم؟

هر کار او دنده د ډېر وخت لپاره د یو مسوولیت منل وي. نو پر دې اساس، ښه ده چې د اړوندې دندې او کار په اړه له یو کال زیات په یو وار باندې مسوولیت ونه منئ. له دندې سره په څنگ کې چې کېدای شي د هغه مسوولیت ومنی، ښه ده چې د اړوندې اداري مسیر هم په نظر کې ونیسئ. باید د دندې په منلو سره د یو- دوو کلونو لپاره تاسې په هغه کې د پاتې کېدو لپاره ډاډه اوسی او په بله دنده پسې ونه گرځی.

په دې اړه بله مهمه نقطه دا ده چې تاسې باید په تاسې پورې د اړوند کار د مسوولیت په اړه ښه درک ولری. ایا ستاسې د بست نوم ستاسې عملي یا کاري مسوولیت په ټوله مانا اخیستلای شی او که نه د بست نوم مو یو او عملي کار مو بیا بل دی؟ ایا ستاسې په واسطه سر ته رسېدونکی کار د همدې شرکت یا اداري د گټو اړوند دی او که نه د بل چا گټې پالي؟ تاسې ته در سپارل شوی مسوولیت خو به ستاسې د مسلک خلاف نه وي؟

باید د کاري مسوولیت د راتلونکي ارزونې په اړه د خپل راتلونکي ژوند په اړه یو ښه تصویر ولری، په راتلونکي کې مو خپل موقف او له هغه سره د ژوند مناسبه ښه ترسیم کړی. که تر اوسه په دې اړه څه معلومات نه لری، له مدیر یا رییس نه مو وپوښتئ چې په دې اړه تاسې ته لازم معلومات در کړي، څو تاسې وشی کولای چې خپل مسوولیت په ښه ډول ومنی.

۲- ولې دا مسوولیت منم؟

د دغه پوښتنې لپاره سم او ناسم ځواب نشته. تاسې باید هغه کار وکړئ، چې ستاسې په گټه وي. تاسې همدا پوښتنه خپله له ځانه وپوښتئ، چې ایا د دغه کار مسوولیت منل ستاسې په گټه دي او که په تاوان؟ په دې اړه له ځان سره ښه فکر وکړئ، چې د دې مسوولیت منل به له تاسې سره د خپلو لویو یا ارزښتناکو موخو په لاسته راوړلو کې مرسته وکړي او که نه؟ او حتی هغه خوندونه یا په اصطلاح اسانتیاوې هم په نظر کې ولری، چې تاسې ته به د دغه مسوولیت په منلو سره په لاس درځي.

د خپلې علاقې له مخې او یا هم د ډېر امتیاز د لاس ته راوړلو لپاره د یو کار سر ته رسول، ډېرو خبرو ته اړتیا لري چې باید په اړه یې وشي، تاسې په دې اړه له ځانه وپوښتئ، کوم یو یې ستاسې لپار ه ارزښت لري د علاقې له مخې د یو کار سر ته رسول او که د ډېر امتیاز. د خپلې علاقې اړوند یوه برخه کې کار کول ډېر خوند لري؛ خو د ډېر امتیاز د لاس ته راوړلو لپاره د یو مسوولیت منل هم کومه بده خبره نه ده. که د ډېرو مادي حقوقو د لاس ته راوړلو لپاره د یو کار مسوولیت منی، دا ټاکنه مو هم د یو دلیل له مخې ده، دا دلیل په هېڅ وجه بد نه شي گڼل کېدای. دلته د سم او ناسم انتخاب خبره نه ده، فقط یوازې دومره باید باوري وی چې دا ټاکنه مو په بیړه نه ده کړې، بلکې د غوره والي لپاره یې ښه دلایل لری، بس همدومره کاپي ده.

۳- ایا د کاري حقوقو په اړه مو له اړوندې منبع سره مذاکره کړې ده؟

دا مهمه نه ده چې تاسې څومره ښه کاري فرصت پیدا کړی دی یا تاسې هغه ته څومره خوشبین یاستی. د یو کاري مسوولیت تر منلو مخکې حتماً له اړوندې منبع سره مذاکره وکړئ. له اړوندې منبع سره د ویل شوي کاري مسوولیت په اړه مذاکره له میاشتنې معاش ډېر څه دي، د بېلگې په ډول: رخصت ورځې، ټرانسپورټ، میاشتنی معاش، ورزش یا تمرین کول، مشخص کاري وخت، مالیه ورکول، د شرکت یا اداري له خوا کارکوونکو ته د ښو فرصتونو برابرول او دې ته ورته نور موارد.

ښه ده چې د یو کاري مسوولیت له منلو مخکې په دې اړه له اړوندې منبع سره دا خبرې ښې پاینل کړئ، که نه وي بیا به وروسته له کار او دندې سترې او په ټوله کې به مو د ځان په اړه نظر یو ډول منفي شوی وي.

## عبدالله: سوله د یوه کس او وزارت کار نه دی، ټول ولس باید پکې گډون ولري

د ملي یووالي حکومت اجرایه رییس عبدالله عبدالله ویلي، سوله د یوه کس او یوه وزارت کار نه دی او باید ټول ولس پکې گډون ولري.

دا په داسې حال کې ده چې ویل کېږي طالب او امریکایي پلاوي په دوحه کې د افغان سولې په تړاو هوکړې ته رسېدلي او یوازې هوکړه لیک ته منتظر دي، خو اجرایه رییس ټینگار کوي چې په دې برخه کې کار کول یوازې د سولې وزارت او یوه کس کار نه دی.



عبدالله عبدالله چې تېره ورځ د وزیرانو شورا له ناستې مخکې رسنیو ته خبرې کولې، ویلي چې د سولې په بهیر کې باید د ټول ولس غږ او خبرې واورېدل شي او یو هر اړخیزه مذاکراتي ټیم جوړ شي.

هغه زیاته کړې: «سوله یو کس ته منحصره نه ده، د یو کس نظر هم نه دی، بلکې د افغانستان د ټول ولس غوښتنه ده، نو خلک حق لري چې په دې اړه دریځ ونیسي، خبرې اترې وکړي، مذاکراتي ټیم باید د حکومت په گډون هر اړخیز وي، یوازې یو وزارت نه شي کولای چې د سولې چارې پر مخ یوسي؛ ځکه دلته زیاتو خلکو د خپلو هیلو او ارمانونو لپاره قرباني ورکړې دي».

عبدالله ویلي، دا څرگندونې چې د سولې چارې به یوازې د سولې وزارت له خوا مختته ته ځي، له وړاندې یې په اړه فکر نه و شوی.

په ورته وخت کې د جنوبي او منځنۍ اسیا لپاره د امریکا سرپرستې مرستیال وزیرې الېس وېلز هم وړمه شپه له پاکستاني چارواکو سره د افغان سولې پر سر د خبرو اترو لپاره اسلام‌اباد ته سفر کړی.

له دې سره د پاکستان او افغانستان لپاره د جرمني ځانگړي استازي مارکس پوتزل هم په کابل کې له ځینو افغان لوړپوړو چارواکو او سیاستوالو سره په جرمني کې د بین‌الافغاني مذاکراتو لپاره پر چمتووالي لیده کاته کړي.

دغه راز د ملي امنیت شورا د دفتر ویاند جاوید فیصل ازادي راډیو ته ویلي، د افغان حکومت او طالبانو تر منځ د سولې خبرو لپاره په جرمني کې د ناستې لپاره پر چمتووالي کار روان دی.

هغه زیاته کړې: «د ملي امنیت سلاکار د افغانستان او پاکستان لپاره د جرمني له ځانگړي استازي سره پر افغان سولې خبرې وکړې، مشخصاً هغه غونډه چې د بین‌الافغاني ډیالوگ لپاره د جرمني په کوربه‌توب جوړېږي، د هغې غونډې په مؤثریت او دا چې څنگه کېدای شي افغان حکومت ترې اعظمي گټه پورته کړي، بحث وشو، اوس د دغې غونډې پر اجنډا او وخت سلا مشورې روانې دي چې دا برخه به هم وروستۍ شي».

بلخوا په پاکستان کې د افغانستان پخواني سفیر حضرت عمر زاخېلوال هم له ازادي راډیو سره په مرکه کې ویلي چې ښایي د سولې د هوکړې تر لاسلیک وروسته، په ۱۰ ورځو کې د ننه د طالبانو او افغان حکومت تر منځ د سولې بین‌الافغاني خبرې پیل شي.

## شکایتونو کمېسیون: نن به په ولایتونو کې د شویو پرېکړو په تړاو د استینافي شکایتونو څېړنه پیل شي

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ویلي، نن د هغو استینافي شکایتونو څېړنه پیلوي چې په ولایتونو کې د شویو پرېکړو په اړه شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون په ۳۴ ولایتونو کې د شویو پرېکړو په اعتراض، ۶۳۰۰ شکایتونه ثبت کړي چې تر ډېره د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې ټاکنیزې ډلې له خوا دي او د استیناف غوښتنه پکې شوې ده.



یاد کمېسیون ویلي، د ځینو اعتراضونو ډلبندي هم پیل شوې، خو د دغو شکایتونو په اړه د تحلیل، څېړنې او پرېکړې بهیر نن پیلېږي. د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون کمېشنر قطب‌الدین رویدار ویلي، د ثبت شویو شکایتونو شمېر خورا ډېر دی، خو دوی پر شپږو کټه‌گوریو وېشلي او دغه شان یې پرېکړه کړې چې له هغو ولایتونو خپل کارکوونکي مرکزي کمېسیون ته را وغواړي، په کومو کې چې کار بشپړ شوی دی.

رویدار زیاته کړې: «موږ دارالانشا ته لارښوونه کړې چې د تحلیل، بررسۍ، تدقیق او د تطبیق په څانگو کې ظرفیتونه زیات کړي، یانې نور کارکوونکي ورکړي، بېلابېل ټیمونه جوړ کړي، څو دا دندې ووېشل شي؛ ځکه د کار حجم زیات دی او په دې سره به موږ وشو کولای چې د قانون له خوا په راکړل شوي وخت کې خپلو پرېکړو ته ورسېږو».

که څه هم د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون په مرکز کې د استینافي شکایتونو د تحلیل، څېړنې او په اړه یې د پرېکړې بهیر نن پیلوي، خو لا هم د ولایتي کمېسیونونو هغه پرېکړه نه ده عملي شوې چې له مخې یې په ۲۱ ولایتونو کې باید د ۵۳۲۱ محلونو رایې له سره وشمېرل شي.

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ویلي، د دغو محلونو په اړه یې د عملیاتي پلان د جوړولو په هدف معلومات د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته سپارلي، خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون بیا وایي، دوی ته استول شوي معلومات ستونزې لري.

د شکایتونو کمېسیون کمېشنر قطب‌الدین رویدار دغه راز ویلي، ژر به د هغو محلونو یو بشپړ نوملړ د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته واستول شي، چې د رایو بیاشمېرنه باید پکې تر سره شي. له دې وړاندې هم پر ټاکنو د څار بنسټونو نیوکه کړې چې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون کارونه پڅ مخ ته ځي، خو د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون بیا د دې نیوکې په ځواب کې وایي، دوی ته له سرعت دقت ډېر مهم دی.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷ |
| € | ۸۵,۳۰ |
| Rp. | ٤۸٦ |
| ₹ | ۱۰۸۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۹,۷۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer
New Vision, New Journey
Daily



WAYGAL Printing Co.
وایگل چاپ

if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایگل چاپ کې تجربه کړئ!

+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com



سه شنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې لومړۍ | د ۲۰۲۰ د جنوري ۲۱مه | ۵۰۰مه گڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳ | ۵ | ۱۱ | ۵ | ۱۱ | ۸ |
| ۸- | ۲- | ۰ | ۱ | ٦ | ۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۱ | لمر ختل ۰٦:۵۸ | ماسپښین ۱۲:۰۵ | مازیگر ۰۲:۵۱ | ماښام ۰۵:۱۰ | ماخوستن ۰٦:۳۸

## نړۍ



## شینزو ابې: له امریکا سره به په گډه د اسیا پاسیفیک په سیمه کې خپل دفاعي رول پراخ کړو

۳

## ملگري ملتونه: په عراق کې د لاریونوالو پر وړاندې روان تاوتریخوالی د منلو نه دی


د عراق لپاره د ملگرو ملتونو ځانگړې استازې ویلي چې په دغه هېواد کې د لاریونوالو پر وړاندې روان تاوتریخوالی ورته د منلو نه دی او پر حکومت یې غږ کړی چې له ځینونکو اقداماتو ډډه وکړي.

د دغه هېواد لپاره د ملگرو ملتونو ځانگړې استازې جنین هنیس پلاسخارت په یوه اعلامیه کې ویلي چې په دې وروستیو میاشتو کې سلگونو زرو عراقیانو د خپلو حقونو د غوښتلو او د فساد د له منځه وړلو لپاره غږ پورته کړی، چې له بده مرغه پر وړاندې یې له ځپونکو اقداماتو څخه کار اخیستل شوی دی.

هغې دغه راز زیاته کړې: «سربېره پر دې چې د لومړي وزیر له استعفا څخه دوې میاشتې تېرېږي، خو د دغه هېواد سیاسي مشران لاهم د دې ستونزې د حل لپاره هوکړې ته نه دي رسېدلي».

د نوموړې په خبره، د لاریونوالو غوښتنو ته دې جدي پام وشي او په دې برخه کې دې په بېړنۍ توگه کوټلي گامونه واخیستل شي. هغې په دې وروستیو کې په سیمه کې روانو حالاتو ته په اشارې ویلي: «سیمه ییزې لوبې باید د عراقیانو راولاړ شوی غږ چوپ نه کړي، چارواکي دې هم په کور دننه کې پر روانو ستونزو سترگې نه پټوي او د حل لپاره دې ژر تر ژره لاس پکار شي».

## اردوغان: په لیبیا کې د ترکیې حضور، سولې ته د رسېدو په برخه کې فرصتونه ډېر کړي



د فارس خبري اژانس د راپور له مخې، د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان ویلي چې په لیبیا کې د ترکیې حضور، سولې ته د دغه هېواد د رسېدو په برخه کې فرصتونه ډېر کړي دي.

اردوغان د لیبیا په تړاو په برلېن کې جوړې شوې ناستې ته په اشارې ویلي چې د دغه هېواد د کړکېچ سیاسي حل هغه مهال بریالی کېدای شي، چې لومړی اوربند وشي.

نوموړي دغه راز په لیبیا کې د خپل نظامي حضور په تړاو هم ویلي چې دغه هېواد ته یې یوازې مشاورین او نظامي روزونکي استولي دي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د ترکیې پارلمان د دغه هېواد حکومت ته اجازه ورکړه، چې په لیبیا کې د فایز السراج په مشرۍ ملي یووالي حکومت د ملاتړ لپاره یاد هېواد ته خپل ځواکونه واستوي.

د یادونې ده چې ترکیې اوسمهال د بل هر وخت په پرتله د لیبیا په مسایلو کې مداخله ډېره کړې او له همدې کبله یې د سراج له حکومته چې د خلیفه حفتر له ځواکونو سره په نښتو کې ښکېل دی، خپل ملاتړ څرگند کړی دی.

د اردوغان دغه څرگندونې داسې مهال دي چې ورمه ورځ جرمني د لیبیا د کړکېچ د هوارې په موخه د روسیې، فرانسې، انگلستان، ترکیې او امریکا کوربه و.

## مشرانو جرگه: برای گفتگوهای صلح باید اجماع سرتاسری به وجود آید



برخی اعضای مشرانو جرگه در اخرین روز اجلاس سال روان، روند گفتگوهای صلح میان طالبان و امریکا را انتقاد نموده و گفتند که برای گفتگوهای صلح، باید اجماع میان سیاسیون افغان به وجود آید.

این در حالیست که به اساس قانون اساسی، امروز مشرانو جرگه رخصتی زمستانی را آغاز می کند.

در ماده ۱۰۷ قانون اساسی کشور آمده است که مدت کار هر دو اجلاس شورا، در هر سال نه ماه می باشد و هر دو مجلس شورای ملی (مشرانو جرگه و ولسی جرگه)، یک و نیم ماه در زمستان و یک و نیم ماه در تابستان رخصتی دارند.

فیصل سمیع نایب منشی این جرگه، دیروز در آخرین نشست اجلاس سال جاری گفت که از ششم ثور سال روان تا امروز، این جرگه ۴۷ طرح قانون، فرمان تقنینی و معاهده بین المللی را تائید و ٦۳۱ تن از مقام های دولتی را در جلسات کمیسیون ها و نشست های عمومی، غرض پاسخگویی فراه خوانده است.

از حدود یک سال به این طرف، گفتگوهای صلح میان نماینده گان طالبان و ایالات متحده امریکا، به گونه وقفه یی جریان دارد و با آنکه گزارش هایی از پیشرفت ها در این گفتگوها منتشر شده، تا حال به توافق نهایی دست نیافته اند.

گزارش های تازه می رساند که طالبان روی کاهش خشونت توافق کرده اند؛ اما صدیق صدیقی سخنگوی رئیس جمهور افغانستان در ۲۸ جدی گفت که تا هنوز در مورد آتش بس و کاهش خشونت پیشرفت نشده و اگر طالبان پیشنهاد آتش بس را نپذیرند، تلاش های صلح بی نتیجه خواهد بود.


## ژوند

## ژمې او د چهارمغزو گټې!



د چهارمغز یا غوزانو په گټې هېڅ څوک هم سترگې نه شي پټولای. په یو تازه څېړنه کې جوته شوې چې که تاسو هره ورځ غوزان وخورئ، نو د زړه د ناروغیو او د وینې د کلسټرول له ستونزې به پاک او صحتمند ژوند ولرئ. د یونیورسیټې آف پنسلوانیا د غذایي موادو د څېړونکي ډاکټر (پیني کرس) په خبره، که د ورځې پنځه غوزان یا درې د چایو کاشوغې د غوزانو تېل وخورئ، نو دا به ستاسو د زړه د شریانونو او د وینې په دوران کې ډېر گټور تمام شي او یوازې څلور ساعته وروسته به دغه تغیرات په خپل بدن کې ووینئ. څېړونکو زیاته کړې، که هره ورځ غوزان وخورو، نو له دې سره به مو زړه پیاوړی شي او د زړه د ناروغیو مخنیوی به مو کړی وي. د څېړونکو په خبره، که څوک د زړه له کومې ستونزې سره مخ وي او یا یې د زړه عضله کمزورې شوې وي، نو هره ورځ دې درې یا څلور چهارمغز خوري، څو په دې سره د زړه له ځینو ناروغیو وژغورل شي. د غوزانو بله گټه دا هم ده چې بدن مو گرم ساتي.

## له خلکو سره مرسته مو عادت وگرځوئ



که له مالي اړخه پر ځان بسیا وئ، کولای شئ هغه کسان چې له زده کړو سره مینه لري، خو د بېوزلۍ له کبله نه توانېږي، تاسو مرسته ور سره وکړئ، څو دوی هم له دې نعمته برخمن شي. که تاسو له ځانگړو مهارتونو برخمن وئ، کولای شئ له خپلو خپلوانو، کلیوالو او گاونډیانو سره مرسته وکړئ او ان د دوی لپاره کورس ونیسئ او خپل مهارت دوی ته هم انتقال کړئ. تاسې چې هر ښه کار تر سره کوئ، له یوې خوا د خدای پاک رضا لاس ته راوړئ او بله بلې خوا ستاسې د خوښۍ سبب هم گرځي. مجبور کسان په ټولنه کې کم نه دي، مالي وضعیت ته دې په کتو له هغوی سره مرسته وکړه. مهمه نه ده چې ته فقیر یې که بډای، اصلي خبره دا ده، چې ته هم د نورو خلکو په شان غواړې خپلو هیلو ته ورسېږې. په هر ډول چې یې، پورته شه او د ځان لپاره د مهالوېش جوړ کړه او د هغه له مخې د خپل ژوند پر مخ بوځه. ډاډه اوسه، هڅه دې اخر خپلو موخو ته رسوي او په ژوند کې به دې د خوښیو بیروبار جوړ شي، نو له همدې نن څخه چې لا هم ناوخته شوې نه ده،لاس پکار شه!


خپله سوداگري د عزیزي بانک جاري حساب سره بدایه کړئ

- دغه حساب افراد/ شرکتونه/ دولتي او غیر دولتي انجوگانی او سفارتونه پرانېستلی شي.
- حساب په افغانیو/ امریکایي ډالرو/ یورو او انگلیسي پونډو پرانیستل کیدای شي.
- د پیسو په زیاتولو او ایستلو کوم لگښت نه راځي.
- د هرې راکړې ورکړې (معاملې) خبرتیایي پیغام خدمتونه
- د لویو شرکتونو د حساب لپاره لږ تر لږه 300 امریکایي ډالر/یورو/انگلیسي پونډ/ 10000 افغانۍ او د انفرادي حساب لرونکو لپاره 100 امریکایي ډالر/ 1000 افغانۍ بې له کومه ساتنویه فیس څخه اړینې دي.
- د زیاتو معلوماتو په پار، مهرباني وکړئ زمونږ تر ټولو نږدې څانگې ته ورشئ او یا مونږ سره په 1515 شمېرې اړیکه ونیسئ.

www.azizibank.af | 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank
MAIN BRANCH
Name : Abdullah
Account No : 00010000000
Customer ID : 1154588
Type of Account : CA. AFN
AZIZI BANK SWIFT CODE: AZBAAFKAXXX
For and help call Azizi Bank Call center on 1515
+93 (0) 701 801 1515 Email: customerservice@azizibank.af